## وشلوی

وشلوی اعزن سیما ن تر مینځ د قبا یلو
هیڅ وخت د قومونو دا خط نه دی د منلو
نه مني اصیل پښتون فرمان د پنجا بیانو
وګوری تاریخ دپښتنومخالف دانګریزاومغلو
دا خوا اوهغه خوا پښتا نه سره دی ورونه
غوښه او نوک بیا نه وی هیڅکله د بیلولو
ټول په دي پوهیږي پیښور کی پښتا نه دي
ښارتیمورشاهی وه لمر په ګوتونه دی دپټولو
ته ناروا ځوی دانګریزځا ن په دي پوه کړه
څه چي دي کرلي وه راځی وخت د ریبولو
ستا انګریزبادار دی وطن کی ګونده شوی دي
نه دي د پښتون تاریخ هیڅوخت د هیرولو
نشی هیڅ کولی د طا لب په مټ افغان مطیع
نن وی که سبا به وخت را ځی ستا د شړلو
طا لب او پنجا بیا ن سکه ورونړ د شیطان
دوی ټول مباح الدم هر یوه دي د وژلو
دا جاهل طالب اخربه خوری خپل سپک ککر
نورافغا ن ملت نه لری زغم د وهلواوټکولو
مل ګوره طالب هیڅوخت نه به سړي کیږي
ماچي دهغونه صفت کړی دی پخپل هر غزلو

---------------------- **په درناوی** «16-12-2022»

## طالب سر اخیستي

وزر چي میږي اوبا سی نښه یی د زوال دي
هرڅواک ابدی نه وی دا متل ډیر ښه مثال دي
طالب د قرتکی خرپه شا ن ډیری موندی وکړ

له دی نه بی خبرچي هر تیاره پسی مشعال دي
له غرونو ښکته شوی ببر  ږیر جا هل طا لب
دسولی راوستل د دوی له  خوا  ډیر محا ل دي
دا ټول  شیطان  صفت  د  شریعت کلک  پلویان
د دین  په دوکا ن نا ست  هره کړنه یی قتال دي
د ښځو  کسب  وکار سره  ډیر کلک  د ښمنا ن
دا ټول دایری منډی  زیږید لی  بی  کما ل  دی
چي څه د دوي په وسه وه پر ښځو ظلم  وکړل
دائکه چي دوي ټول داکوړی  مال ومنا ل دی
بی خور ومور شاګرد د حقا نی په  مدرسو کي
محروم دمورله مینی له یوسره ټول بی حال دي
اوس وخت یی  رسید لی افغا نا نو سره  یوشي
طالب وزر ایستلی «مل»  له سره په زوال دي

---------------- پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

جرمنی 12-01-2023